# غازي امان الله خان

## د افغانستان د خپلواکۍ ستوری



د مقالو ټولګه

پروفیسر ډاکټر وقار علي شاه کاکاخېل

# امیر امان الله خان د پښتنو او د "پښتون" په نظر کې

امیر امان الله خان د هندوستان له پښتنو سره ډېره زیاته مینه لرله. پښتنو هم هغه یو مثالي بادشاه ګڼلو. امان الله خان د خپل شهزاده توب له وخت نه د استعمار او برتانوي امپریالیزم په ضد شهرت درلود. امان الله خان د افغانستان نه یو مثالي مملکت جوړول غوښتل. هغه په خپل قام کې هم د ځان لپاره د عزت ځای پیدا کړو. له پرنګي سره د استقلال د جنګ نه پس امان الله خان اعلان وکړ چې د نن نه پس افغانستان آزاد شو او افغانستان د خپلواکۍ جګړه

وګټله او د خپل دوست او دښمن ترمنځ توپير به اوس افغان ولس پخپله کوي. موږ نور هيڅ چاته دا حق نه ورکوو چې هغه دې د افغانستان د مستقبل فيصلې کوي.

امان الله ان د افغانستان نه يوه مثالي مملکت جوړول غوښتل. په ملك کې دننه هم هغه ډېر اصلاحات وکړل او افغانستان يې د پرمختګ په لاره روان کړ. هغه اراده وکړه چې افغانستان په بهرنيو هېوادونو کې هم په ښه نوم وپېژندل شي. هغه غوښتل چې ځان ته په خارجي دنيا کې څه د عزت مقام پيدا کړي او افغانستان ته څه ملګري هم وګوري. هغه فيصله وکړه چې د نړۍ په دوره ووځي. ځان سره يې خپله ښځه ثريا، چې د محمود طرزي لور وه، هم په دې سفر کې بوتله.

په دې ورځو کې دلته باچا خان او د هغه ملګرو د صحافت په ميدان کې يوه نوې تجربه وکړه او د پښتنو د ښېګړې لپاره يې هم په پښتو کې "پښتون" رساله خپره کړه. په دې مضمون کې هم چې "پښتون" کې د شايع شوي مضمونونو په رڼا کې په پښتونخوا کې د امان الله سره د مينې او د افغانستان د روانو چارو سره د مينې په باره کې ليکل کېږي دا خبره د يادولو وړ ده، چې دلته د پښتنو لپاره امان الله خان د يوه آئيډيل بادشاه حيثيت لاره چې په پښتو، پښتون قام او په پښتونولۍ مين و. د امان الله خان د يورپ د دورې نه واخله د هغه د هندوستان په لاره اټلي ته د

تنګ تر وختـه پورې په "پښتـون" کې ډېر څه لیکل شوي دي. په لاندې ډول د هغې یوه لنډه شان ارزونه کېږي. دا خبره هم د ذکـر وړ ده چې د کـوزې خوا پښتنو پـه خیـال د امان الله روښـن فکـري، د قامولـۍ مینـه او د رجعت پسندۍ نـه کرکـه او د هغـه پـه جـار د برتانوي امپریالیزم غندنـه د هغـه دښمنان سېوا کړل. پرنګي د استقلال پـه جنګ کې خپله بې عزتي نـه وه هېـره کـړې. دوی هېـڅ قسـم داسې موقعـه لـه لاسـه نـه ورکولـه، چې امـان الله خان تـه پرې نقصـان ورسوي او هغـه پـه خپـل قام کې بدنام کړي. پرنګی پـه دې ډېر ښـه پوهېده چې د افغانسـتان پـه ترقـۍ د هندوسـتان پښتانـه خوشـالېږي او دوی هم لـه امـان الله خان نـه ډېره تمـه لري. د هغـوی پـه خیـال امان الله خـان د هندوسـتان د پښتنـو مرستې تـه هـر وخـت تیـار و، ځکـه خو د پرنګـي دا کوشش و چې پـه هـر ډول کېږي امـان الله خـان د لارې لـرې کـړي، ځکـه چې هغـه د پرنګـي استعمار د سترګو ازغـی و. پرنګي دا کلـه زغملـی شـول، چې افغانسـتان دې پـه خپلـو پښـو ودرېږي او د نـړۍ لـه نـورو آزادو قـامونو سـره دې د پـرمختګ او ترقـۍ پـه لار کې څنګ پـه څنګ روان وي.

پـه "پښتـون" کـې د امـان الله خـان د دورې د تفصیلاتو سـره سـره د هغـې پـه اثراتـو بانـدې هـم بحثونـه شـوي دي. لکـه چې وویـل شـول لاندې بـه ددې مضـمونونو پـه رڼـا کـې د امـان الله خـان د یـورپ دوره او د هغـې لـه نتـایجو سـره سـره د امـان الله

خان د افغانستان پرښودو او د هندوستان په لاره اټلي ته دتګ پورې ځینې تفصیلات ورکول کېږي.

د "پښتون" په لومړۍ ګڼه کې د پېښور د مشن کالج یوه طالب علم د عبدالمجید افغاني مضمون "د افغانستان ملکه او د یورپ لباس" د سرخط لاندې چاپ شو. په دې اوږد مضمون کې لیکوال اول خو د امان الله خان د اروپا د دورې تفصیلات بیانوي او د هغه عزت او درناوی ذکر کوي، چې امان الله خان ته په دې دوره کې د اروپا نورو باچایانو ورکړی و. لیکوال وایي، چې د امان الله خان د ازادۍ سره مینه او د خپلې خاورې عزت ده ته د نړۍ په نورو هیوادونو کې د عزت ځای پیدا کړو. امان الله خان هم دا ثابته کړه چې د هغه قام پښتون یوازې وحشي او جاهل نه دی لکه چې پرنګي مشهور کړی دی، بلکې هغوی هم د نورو مهذبو قامونو په شان د دنیا په ژوند ژواك ښه پوهېږي.

عبدالمجید لیکي، چې "زموږ بادشاه اروپا په خوب کې هم نه وه لیدلې نه د کور نه بهر وتلی و، مګر کوم وخت چې هغه د اروپا خاورې ته ورسېد هم هغه وخت نه، نه دی مشرقي بادشاه و او نه هغه امر و، چې یو ځو ورځې وړاندې د مومندو په جرګه کې ولاړ و، خبرې یې کولې او یو خوارکي مومند ورته وویل "امیر صاحب بل چا له هم وار ورکوې که نه؟ ډېر مه ګړېږه چې زه هم خبره وکړم" او ده

ورته وویل "ډېره ښه نه به کړېږم" بلکې دلته داسې معلومېده، چې دی هم د اروپا بادشاه دی او په همدې آب و هوا کې پیدا شوی، لوی شوی او دومره خود راز چې معلومېږي تمامه اروپا دده زیر فرمان دی. دا ټول سفر دده په خلاصېدو دی. د اروپا تمام متعصب اخبارات په دې انتظار کې دی چې کله به د امیر صاحب نه څه غلطي کېږي او دوی به پرې اعتراض کوي او سپکوي به یې، مګر هېڅ عیب په کې نه پیدا کوي او نه د هغې په خودداري کې څه عیب مومي نه په لباس کې نه په خبرو کې څه نقصان او نه د یورپ د تهذیب نه خلاف څه کمی شته. نه د هغو کارخانو دد نیا د تباهۍ سامان دریابي بېړۍ په ده باندې څه وېره راولي. تمام یورپ حیران دی چې دا څه رنګ سړی دنیا ته راغلی دی"(۱)

د ملکه ثریا په باره کې هم لیکوال خپله رایې داسې ورکوي:

"همدارنګه د افغانستان ملکه چې کوم وخت د مغرب په زمکه قدم ایښی دی دا نه معلومېږي، چې دا هغه مادر وطن ده چې د کابل په کوڅو کې به په جینکو پسې ګرځېده او په یو څو ورځو کې یې اته سوه جینکۍ په مدرسه کې داخلې کړې او د هغو د تعلیم انتظام یې وکړ بلکې داسې معلومېږي چې د یورپ یوه ملکه ده او ټول عمر یې په یورپ کې تېر کړی دی. نه د یورپ قومونه د هغې په

وضعې اعتراض کولی شي، نه په خبرو باندې. نه په لباس باندې او نه د هغې په شاهانه خودداری باندې. د یورپ تمامې ملکې د هغې هرې ادا ته ګوري او حېرانېږي، چې د کابل په غرونو کې دې څرنګ دا تهذیب پیدا کړی دی او دا تمامه تبدیلي د شاه افغانستان په حکم او اجازت سره وه.

هغه ته دا معلومه ده چې دا ټول تصویرونه به افغانستان او هندوستان ته ځي. هغه ته خپل قومي غیرت معلوم دی. هغه ته دا هم معلومه ده، چې پښتون ته په ښځه څومره غیرت ورځي. هغه ددې نه هم خبر دی چې دښمنان به په دې بهانه سره په افغانستان کې د فساد پیدا کولو کوشش کوي او د هغو خلکو لپاره چې د زماني له رنګ سره ناآشنا دي دا یو لوی سند دی. دا هرڅه غازي امان الله خان ته معلوم دي، مګر بیا هم دی هیڅ پروا نه لري".(٢)

ښاغلی لیکوال دا زیاتوي چې دا کومه پرده چې دلته پر هندوستان کې رابجه ده او د کومې مطابق چې ملکه ثریا "بې پردګي" کوي دا نه په اسلام کې شته او نه په پښتو کې .

وايي چې "د کوم قوم چې د ګلونو په شان جینکۍ غرونو ته ځي او په خپلو سرونو لرګي راوړي، په وچو مېرو کې لوونه کوي د جنګ په میدان کې په مخکې رواني وي او خاندان د دوی په اوږو باندې ټوپکونه اینبي وي، دښمن ولي او دوی په سرو لمبو کې ولاړې وي. د داسې قوم ملکه به څه پرده وکړي؟ نه ورله پرده کول مناسب دي."(٣)

په دې مضمون باندې هم په دې ګڼه کې یوه خدایي خدمتګار میا احمد شاه د خپلې رایې اظهار کوی او لیکي، چې:

"د ګونګوسي نه داسې معلومېږي چې د بعضو روح مړو، ړوند زړو خلکو په سترګو کې د افغانستان آزادي او ترقي غړېږي او دا خیرن مخي کوشش کوي، چې په څه چل سره زمونږ د سر ګل، زمونږ د زړه آرام، زمونږ د حجرې شته، زمونږ د کنډك شپون، زمونږ د محفل شمع غازي شاه امان الله خان په خلکو کې بدنام کړي. په خپله خو مو دا ایمان دی، چې عزت دده کېږي او د خوشحالۍ نه مونږ باغ باغ کېږو"(۴)

د جون کال ۱۹۲۸ د "پښتون" په ګڼه کې هم دا عبدالمجید افغاني د امان الله خان له قوم سره مینه ستایي او د برمنګهم (انګلستان) واقعه بیانوي چې کله امان الله خان په برمنګهم کې و، نو هلته ځینې پښتانه هلکان چې د تعلیم په سلسله کې دېره وو او یکې سعدالله خان (ډاکتر خان صیب زوی) هم و، هغوی چې خبر شو چې امان الله خان دلته راغلی دی، نو هرکلي ته ورغلل. امان اله خان د خپلو مصروفیاتو نه وخت وویستو او په دې ډېر زیات خوشاله شو، چې کله ورته وویل شول چې دلته په ګڼ شمېر کې پښتانه هلکان د تعلیم په سلسله کې دېره دي. امان الله خان دې زلمو ته بلنه ورکړه چې کله دوی په رخصتي وي، نو

ضرور دي افغانستان ته په سیل راشي.(۵)

کله چې امان الله خان د یورپ د دورې نه واپس راغی، نو بیا "پښتون" ورته تود هرکلی ووایه. د ۱۹۲۸م کال د جولایي په ګڼه کې د میا احمد شاه یو مضمون "د افغانستان ملکې او بادشاه ته هرکلی" د سرخط لاندې چاپ شو. لیکوال ډېر په ویاړ او فخر د امان الله خان د دورې ستاینه کوي، چې ددې په برکت پښتانه هم لکه د نورو قومونو په خارجي هېوادونو کې په ښه شان وپېژندلی شول. ولې ددې سره سره امان الله خان ته خبرداری هم ورکوي، چې:

"اګرکه مشرق هم نن ورځ د ترقۍ میدان ته راکوز شوی دی، ولې لا په خرپوسو دی. کوشش کوي چې ډېر زر د ګرځېدو او د منډو شي. پښتانه هم په ننګیالۍ او سیالۍ شوي دي. دا سیالي یې مبارك شه. خو ګوره د سردارۍ تاج یې ستا په سر دی، هسې نه چې قدم دې خطا نه شي او دا خپلې قام قبیلې درته بلا نه شي او دا غیرتمند ننګیالی قوم د چا د خندا نه شي."(۶)

میا احمد شاه امان الله خان ته خبرداری ورکوي، چې په هره طریقه چې وي ځان او خپل هېواد دې د جنګ نه وساتي، ځکه چې جنګونه له ځان سره تباهي او بربادي راوړي. هغه لیکي، چې:

"جنګ په حقیقت کې یو ډېر لوی مصیبت دی. کل کاروبار ګډوډ شي اګرکه نن ورځ داسې ډېر مهذب قومونه

شته دی چې جنګ یې خپل کسب ګرځولی دی، ولې چې د بل بربادي د ځان وداني ګڼي لیکن دا انصاف ته قریبه خبره نه ده. په خپلو خپلو نصیبونو صبرېدل باعث د آرام او د امن ګرځي. پاتې شو افغانستان، تر ډېرو کلونو پورې افغانستان له په څه جنګ کې حصه اخیستل په کار نه دي که چېرې په جنګ کولو باندې مجبور نه کړی شي. ولې چې مجبوري لویه بلا ده. بېشکه د ژرندې پلونه د افغانستان نه یو خوا او بل خوا پراته دي او زوګ دی، چې په ګرځېدو دې هسې نه چې افغانستان دل نه کړي ولې چې افغانستان ته امن امان په کار دی. اول د کور وداني ده چې رېښتینې ځوانمردي ده. د هر ممکن کوشش نه کار اخیستل په کار دي، چې د ملك مالي حالت ښه شي او بعد د هغې نه چې څومره کېدی شي په فوځي او تعلیمي کارونو باید د حد نه زیاتې روپۍ خرڅول په کار دي."(۷)

هم په دې ګڼه کې په لندن کې د پښتنو هلکانو (طالب علمانو) له خوا بادشاه لپاره تیاره کړې شوې سپاسنامه (هرکلي نامه) شایع شوه. دوی په څه وجه دا د بادشاه په خدمت کې هلته پېش نه کړی شوه او دلته د "پښتون" په ذریعه یې وروړاندې کړه. د دوی د سترې مشې نه پس لیکي، چې:

هم ستاسو په سعې او کوشش سره پښتون قوم نن ورځ په دنیا کې لکه د نور هسې ښکاره شو. موږ د سرحد پښتنو

کې هم د یو نوي ژوندون روح پیدا شو. ستاسو قومي او ملي کوششونه دې همېشه کامیاب وي.

موږ د سرحد پښتانه اګرکه په ظاهر بېل ښکارو ولې زموږ او زموږ د نورو وروڼو خواه هغه په افغانستان کې دي یا علاقه غیر کې د ټولو زړونه یو تر بله سره ګنډلي دي. ظاهر بېلتون موږ نه شي بېلولی. نسل، قومیت، ژبه، عادتونه، خویونه، زموږ د ټولو یو دي. بېشکه نن ورځ تاسو آزاد یې موږ درته ګورو او زهیرېږو. ولې بیا هم په "لا تقنطوامن رحمة الله" باندې پوره پوره ایمان لرو. نن که په موږ غم دی، دا به تېر شي". دوی دا هم زیاته کړه، چې:

"بل زموږ دا عرض دی، چې د قومیت بنیاد په غیر متزلزل عصبیت اېښودل پکار دي او دا دواړه د یو صحیح قومي تعلیم چې هم د قوم په خپله ژبه کې وي په موجودګۍ کې په وجود کې راتلی شي. پښتنو له په خپله ژبه کې تعلیم ورکول پکار دي. د هرې ژبې د ترقي د هغې په ویونکو باندې موقوف وي. دا به څه رنګ ښه وي، چې د پښتنو طرف ته خاصه توجه وکړی شي. دلته په انګلستان کې او په نورو مغربي ملکونو کې خپلې خپلې ژبې رایجې دي. علم او هنر او اخبارات او رسایل ټول په قومي ژبه کې خپرېږي. که آسانتیا په کور پیدا شي، نو به ډېره ښه وي." (۸)

لکه چې لیکل شوي دي پرنګیانو خپل بې عزتي نه هېروله کوم چې هغوی د امان الله خان دلاسه په کال ۱۹۱۹

کې لیدلې وه. هغوی هېڅ داسې موقعه د لاسه ورکول نه غوښتل، چې امان الله خان ته پرې نقصان ورسوي. امان الله خان د هغوی د سترګو ازغی و او بیا اوس خو نور هم پرنګیان د امان الله خان په ضد شول کله چې هغوی دا ولیدل، چې خارجي دنیا کې د هغه شومره عزت او درناوی وشو. "پښتون" په بار بار امان الله خان ته خبرداری ورکولو، چې ګوره بې غمه نشې ځکه چې ستا عزت او درناوی د پرنګي د سترګو ازغی دی. هغوی د خپل مقصد لپاره په افغانستان کې "د دین ستنې" ترلاسه کړې او ډېره منظمه پروپاګنډا یې د امان الله په ضد شروع کړه.

د ۱۹۲۸ز کال د اګست په "پښتون" کې یو مضمون د "د شاه افغانستان پرخلاف سازش د پرنګیانو د شر نه ډك کارونه" د سرخط لاندې چاپ شو. په دې کې امان الله خان ته ویل شوي دي، چې ځان د پرنګي د چلو نه بچ ساته، ځکه چې هغوی لګیا دي او ستا په خلاف یې د خپلو "تنخواه خورانو" په ذریعه "په خلکو کې د شر او فساد د پیدا کولو کوشش کېږي. دا د دین ستنې ملایان ددې پلیت کار د پوره کولو لپاره د بادشاه د ښځې ملکه ثریا هغه ځیرې چې کومې هغې په ولایتي جامو کې ایستلي دي، په خلکو کې خوروي او دا رنګ خلك ترېنه اړوي... اګرکه دا خبره تر اوسه پورې هسې مشهوره وه، ولې اوس رښتیا شوه او دا پته خبره څرګنده شوه، چې پرنګیانو په پیسو باندې ملایان

ساتلي دي او دا ملايان د دين په جامو کې د پرنګيانو لپاره د افغانستان د مسلمان بادشاه په خلاف دا خبره خوروي، چې د بادشاه اراده ده، چې د افغانستان ټوله زمکه او جماعتونه د خلکو نه واخلي او د ټول قام ملکيت يې کړي او بله دا چې په مدرسو کې د مذهبي تعليم په ځای څه بل تعليم شروع کړی شي."(٩)

هم په دې مضمون کې دا هم ليکل شوي دي، چې پيرنګيان دا هرڅه ددې لپاره کوي، چې امان الله خان د هغوی هيڅ خبره نه مني او نه يې د دوی ملګرتيا قبوله کړې ده، پيرنګيان په دې هم پوهېږي چې ترڅو پورې چې امان الله خان په پاچاهۍ ناست وي، د دوی مقاصد پوره کېدل ناممکنه دي. په امان الله خان د پرنګي د طاقت هيڅ اثر ونه غورځېد او دا خيز په پيرنګي بد ولګېدو، ځکه خو يې دده په ضد سازشونه پيل کړل.

د ١٩٢٨ کال د نومبر په "پښتون" کې د عبدالغفار خان (باچا خان) مضمون د "عربستان بې تاج بادشاه په افغانسان کې" سرخط لاندې ليکل شوی دی. په دې مضمون کې باچا خان د بمبۍ د يوه انګرېزي اخبار "ټايمز آف انډيا" په حواله خبر ورکوي (دا خبر ددې اخبار په ٢٨ اکتوبر شايع کړی دی) چې کرنل لارنس چې عربو ورته د ډېرې مينې نه د خپل "بې تاج بادشاه" خطاب ورکړی دی او چا چې د ترکو خلاف عرب راپورته کړي وو او په کاميابۍ سره يې دا بغاوت

ترسره کړي و، هغه اوس په افغانستان کې د انګرېزانو لپاره د افغانانو د ژوند د مطالعې کولو لپاره ډېره دی. ددې اخباري خبر مطابق د هغه د کار يوه اهمه خبره دا هم ده، چې وګوري چې امان الله خان د يورپ نه په واپسۍ کوم اصلاحات په افغانستان کې نافذوي او ددې په خلکو څه اثرات پرېوځي. باچا خان ليکي، چې:

"موږ ته د کرنل لارنس يا د "بې تاج شا لارنس" ناپاک کارونه او کارنامې معلومې دي. خدای دې خير کړي چې زموږ خوش اعتقاده او ساده پښتنو رونو ته به يې کوم کوم حسن د ځان زبرګ جوړ کړی وي او خپل مطلب به وباسي."(۱۱)

هم په دې ګڼه کې د ميا احمد شاه مضمون "شاه امان الله او پښتانه" چاپ شو. په دې مضمون کې ليکوال د افغانستان او د پښتنو ترقي د امان الله خان په وخت کې ليکلې ده. هغه وريادوي چې هغه ورځې لا د خلکو هېرې نه دي، چې د افغانستان خلك هم د غلامۍ په تورو تيارو کې پراته وو. بيا يې د غازي امان الله د لاسه آزادي ومونده، خو په ځای د خوشحالېدو د پښتنو ترقي او پرمختګ باندې د ډېرو خلکو زړونه وچاودل. ليکوال د هندوستان د يوه انګرېزي ورځپاڼې "سول انډ ملټري ګزټ" ذکر کوي، چې په هره ځلورمه ـ پينځمه ورځ به داسې مضمون ضرور شايع کوي چې پکې افغانستان او د امان الله خان سپکاوی

ښکاره شي. ولې افغانستان د امان الله خان لاندې دنيا ته ورښکاره کړه، چې دوی دداسې قسم ته خنداګانو هيڅ پرواه نه کوي او غواړي چې هندوستان ته هم د ازادۍ سبق وروښايي.(۱۲)

د ۱۹۲۸ کال د دسمبر "پښتون" ګڼه کې هم د "افغانستان" د سرخط لاندې د ميا احمد شاه يو ډېر اوږد مضمون شايع شوی دی. ليکوال د غازي امان الله ستاينه کوي او ليکي، چې د غازي امان الله خان په برکت نن د نړۍ په ګوټ ګوټ کې پښتون قام هم پېژندل کېږي. ليکي، چې په امان الله خان قسم قسم تورونه لګي، چې هغه جماعتونه ورانوي او د ښځو د پردې خلاف دی. دا هرڅه ځکه دي چې هغه د افغانستان ترقي او پرمختګ غواړي. هغه د شينوارو نه هغه ماليه غواړي کومه چې هغوی د تېرو څو کلونو راسې نه ورکوي، نو په دې کې څه بده خبره ده. په هغه باندې ددې ماليې د غوښتلو سره د کافر، ملحد او بې دين تورونه ولګېدل. ولې په نورو ملکونو کې خلک ماليه نه ورکوي څه؟ ليکي، چې:

"غير غماز ته هم ډېره ښه موقعه په لاس ورغلې ده، کوشش کوي چې د بادشاه امان الله خان ټول کوششونه، چې د قام لپاره په ډېر اخلاص او نېك نيتۍ سره کوي تباه او برباد شي. زه وايم که چېرې پښتانه د امان الله خان غوندې مخلص بادشاه دلاندې ترقي ونه کړي، نو بيا هيڅېرې څه

امید کېدی نه شي."(۱۳)

ښاغلی لیکوال د هغه خلکو او په خاصه توګه د هغه ملایانو، چې د امان الله خان په ضد راولاړ شوي وو، غندنه کوي او وایي چې:

"پاتې شو ملایان، تراوسه پورې چې په غره او سمه دا ټول ښتانه بغېر د څه پردې نه بهر ګرځي راګرځي او خپل کاروبار کوي، نو ملایان دوی ته نه وایي، چې تاسو پرده ولې نه کوئ؟ زه تپوس کوم چې د ملا صاحب د کور خلك ولې پرده نه کوي"(۱۴) او دا چې "لور په لور جوارۍ، زنا، قتل، لارې شوکېدل د دروغو ګواهۍ کول جاري دي، ملایان چرې هم په دې بدو خلکو پسې شوي دي. او یا یې د یو بدکار سرې جنازه پرېښې ده؟ چې جماعتونو کې هلکان څوك ساتي او ګډوي. د دروغو ګواهۍ پسې چا ملا تړلې ده؟ د مخبرۍ په کار کې څوك وړاندې وړاندې دی؟ ماته په خپله معلومه ده چې کوم ملایان ډېر ډېر پیش دي هغه ټول مخبران دي باقاعده تنخواه ګانې خوري".(۱۵)

ښاغلي لیکوال د امان الله خان د تقریرونو نه اقتباسات راخیستي دي او دا ترینه ثابتول غواړي، چې بادشاه په هر حال د ښتنو ښېګړه غواړي. امان الله په جار جار دا وینا کړې ده، چې "ای ښتنو ورونو! راغونډ شئ او د خپل وطن ودانۍ ته ملا کلکه وتړئ. زه ستاسو ورور یم. څه خدمت چې په ما اچوئ هغې ته تیار یم، خو ګورئ چې د چا په

لمسه پسې لاړ نه شئ ګنې نو بیا به ارمان کوئ او وخت به تېر وي."(١٦)

په دې ورځو کې افغانستان کې د امان الله خان په ضد بغاوت شروع شوی و. دلته په "پښتون" کې داسې مضمونونه ورکول شروع شو چې خلکو ته دا ووايي، چې د خپل وطن په بربادۍ کې د چا په لسمون برخه مه اخلئ. دوی د امان الله خان هغه اصلاحات وستايل، چې د افغانستان د پرمختګ او د اولس د ښېګړې لپاره يې کړي وو. غالباً چې ددې غټ مقصد هم دا و چې دې خلکو ته ووايي، چې امان الله خان د ذاتي ښېګړې او مفاداتو لپاره دا کارونه نه کوي، بلکې دا خو د قوم او وطن د فايدې لپاره دي.

ميا جعفر شاه د ١٩٢٩ کال د جنورۍ د "پښتون" په ګڼه کې يو مضمون د "په افغانستان کې د تعليمي ترقۍ دور" د سرخط لاندې شايع کړو. په دې اوږد مضمون کې ښاغلي ليکوال په افغانستان کې د امان الله خان په وخت کې د تعليمي ترقۍ تفصيلات بيانوي. په دې مضمون کې ليکوال د تعليم د ځينې څانګو يوه جايزه په ژور نظر اخلي او د امان الله خان ددې قدم ډېره زياته ستاينه کوي، چې هغه تعليم په ټولو خلکو په زور زده کول غواړي. وايي، چې:

"اوس لکه چې د اعلی حضرت دا خيال دی چې تعليم جبري شي نو که عمل پرې شروع شي توقع دا ده چې د

افغانستان به د سلو نه سل تعلیمیافته یعنې ټول خلك به لیکونکي او لوستونکي شي او په مخکښې لس کاله کې افغان قوم به په مقابله د هندوستاني قوم چې یو نیم سل کاله د دې نام نهاد تهذیب دعویدار او د علم علمبردار حکومت دلاندې اوسېدلی دی، ډېره زیاته ترقي وکړي. په شرط ددې که د دښمنانو د شیطانۍ او د جبر نه بچ پاتې شو".(۱۷)

هم په دې ګڼه کې یو مضمون "د شینوارو غوبل او د سپین مخو مزاد بل" په نوم د راحت الله زاخیلي له طرف نه چاپ شو. ښاغلي لیکوال په دې ډېر اوږد مضمون کې د مشرق د مسلمانانو په ساده توب او د دوی د دښمن په مکارتوب رڼا اچوي. وايي، چې:

"له پېړيو راسې دَ مغرب د سپین مخو قامونو یو ټولی د اسلامي ملکونو بربادولو لپاره ملا تړلې ده. او دې مار په دنیا کې په ډېرو دروغو باندې د مسلمانانو دښمنان پیدا کوي او زیاتوي دی خوا د مشرق بې علم، وهمیان، په رسمونو رواجونو کې بوخت او وېشلي قامونه په دې دروغو داسې یقین کوي او داسې د دښمنانو مراد ترسره کوي، چې هغو ته لاخوند ورکوي، ځکه ورځ تر ورځ ددې دروغو مزی اوږدوي او اوږد يې کړ."(۱۸)

لیکوال ډېر اوږد بحث په دې کړی دی، چې څنګه یورپي قومونو په رنګ رنګ ترکان بدنام کړل. د هغوی د بدنامۍ

نه وروستو يې د افغانستان د بدنامۍ پسې بدې ووهلې او دا کوشش يې روان دی، چې په څه طريقه هم وي د افغانستان د ترقۍ او پرمختګ مخنيوی وکړي. وايي چې:"د افغانستان په باب کله دا شتې هم ويشتل کېږي، چې درې ماشينونه يې راغوښتي دي په هغو کې به مړي سوزوئ. کله وايي چې سيکانو او مسلمانانو نه يې په زور ږيرې او سرونه وخرېل، کله وايي ښځې يې باهر ته وويستې، کله وايي ټولو ته يې د پيرنګيانو ټوپۍ په سر کړې، کله وايي ملايان يې توپو کې والوزول او کله وايي جماعتونه يې وران کړل. د مسلمانانو په عقل هم کاڼی پرېوتی دی، چې په دې خبرو باور کوي. شکيان خلك خو به دا وايي، چې هسې څوك چا پسې خبرې نه کوي. څه تور سپين خو به وي. ولې زه وايم چې کومه خوله په دروغو عادت وي د هغې رښتيا او سره څه دي. پښتو کې متل دی چې "رښتيا راځي، نو دروغو به کلي وران کړي وي" ولې اوس دا متل هم جوړ پښتنو نه هېر دی."(١٩)

راحت زاخيلي د شنوارو د غوبل متعلق ليکي، چې:

"په افغانستان کې که د چا کور کې دوه لوښي وکړېږي، نو دلته کارغان ملك په سر واخلي، هم دا ټوکه د شنوارو په غوبل شوې ده. شينواري د هندوستان سرحد سره نږدې پراته دي. لس دولس زره به په شمېر وي. دوی د سړك په سر د کابل بادشاه نه پخوا داسې وظيفه خوړه او څه شوکه موکه

به يې نه کوله يعنې د سړك ساتنه د دوی په ذمه وه. اوس بادشاه دا کار خپلو حاکمانو ته حواله کړ، نو د دوی وظيفه بنده شوه. دوی په دې مرور شول او تاو ورغی. بس خبره دومره ده. نه خو اعليحضرت جلال آباد ته راغلی دی نه خو باغيانو د هغه د سر لپاره انعام مقرر کړی دی، نه هغو جلال آباد سوی دی نه ۸۲ سيکانو پرې ډزې کړي دي او نه بادشاه له باغيانو نه په تېښته خلاص شوی دی."(۲۰)

بيا زياتوي، چې امان الله خان کلك مسلمان دی، قبلې ته لمونځ کوي، کلمه وايي، د مسلمان کره او په يوه مسلمان ملك کې پيدا شوی دی. دا صرف د دښمنانو پروپاګنډه ده، چې د هغه بدنامول غواړي او دا ځکه چې هغه د خپل ملك او قام ترقي غواړي. هغه ددې ملك اوسېدونکی دی او "دا د هغه کار دی چې د قام اوچتولو وينبولو قابلولو نوې نوې لارې وباسي او خرابې خبرې او ناکاره دستورونه له ملك نه لرې کړي. همسې خو په افغانستان کې دا نوې نوې خبرې له ډېرې مودې راسې شروع دي ولې کوم وخت نه چې غازي امان الله خان په تخت ناست دی، نو دا کارونه يې ډېر په تندۍ راخيستي دي."(۲۱)

ښاغلی ليکوال دا ثابتول غواړي، چې په مسلمانانو کې درې داسې په زړه کې د قوم درد لرونکي پيدا دي، چې هغه د يورپ په خلکو ښه نه لګي. دا درې کسان د ترکيې

مصطفی کمال اتاترك، د ایران رضا شاه پهلوي او د افغانستان امان الله خان دي. دوی غواړي چې "دا د پېنځو سوو کالو راسې په خواره خوب اوده مسلمانان، د مړژواندي او بې بنې مسلمانان دا بېخوده او سرسام وهلي مسلمانان، دا ٫ چيرړو جوړ شوي مسلمانان وېښ شي، تکړه شي، په خود شي، سم شي، هوښیار شي، پوه شي او بیا لکه د خپلو مشرانو او پخوانو نیکونو په شان نران شي، بهادران شي، بادشاهان شي او د خپل خدای او رسول په لار روان شي، چې دنیا او اخرت یې ودان شي".(۲۲)

راحت زاخیلي په دې خبرې خپله حېرانتیا ښکاره کوي، چې:

"په افغانستان کې ددې خبرو نه چرته اور لګي، نو هغه په داسې علاقه کې لګي چې د هندوستان سرحد ته نزدې پرتې دي. د افغانستان په بادشاهۍ کې چرته بلې ډډې ته هیڅېرې داسې اړې ګړې جوړ نه شو، چې خلك پرې مجلسونه ګرم کړي. دا انتظامي خبرې هر څومره چې جاري شي، نو د کندهار، هرات، ترکسان او د کابل خلك یې په چپه خوله مني، لیکن د سوېل ډډې خلك چې د هندوستان سرحد ته پورې اوسېږي، دوی په هغه خبرو یاغیان شي. دې خرابو کارونو لرې کولو او ښو کارونو شروع کولو باندې ټول افغانستان کې هیڅوك څه نه وایي، خو که مرچکی لګي، نو د ډکې ګیرچاپېره شینوارو باندې چې د سرحد نه

پورې را پورې پراته دي؟ هر سړی نه خپل عقل نه تپوس کوي، چې ای په ټول افغانستان کې نور هیڅوک نه ملایان زبرګان او په دین باندې مین خلك نشته، خو بس که د دین دنیا ټیکیداران دي، نو دا د سرحد کرښې خواوشاه خلك دي، چې د هندوستان وړمه وررسي. چې دې خبرو ته بنده وګوري، نو سمدستي یې دا شك په زړه کې پرېوځي، چې د مغرب او مشرق خبره جوړ پښته ده او په دې غاړه باندې ضرور داسې پلیتان شته دی، چې هغوی تل په دې فکر او سودا کې لګیا دي کوششونه کوي، چې د خلکو زړونه خپل بادشاه نه وټکوي. دا لویې وړې خبرې، چې بنده ځان ته مخکې کړي او فکر په کې وکړي، چې !ی دا کوم قامونه چې تل خپل بادشاه پسې ټوپك واخلي، د هندوستان سرحد ته نږدې پراته دي او هغه قامونه سره یې تله راتله دي چې د هندوستان لکۍ پورې نښتي دي، نو خامخا به دا خیال د هغه مغزو کې وګرځي، چې خدای مې دې غاړه نه نیسي دا قامونه پورته کول او همېشه یې په خپل بادشاه وراچول، د غر غمازو لسمون دی".(۲۳)

راحت زاخیلی په دې خبره هم ډېر حیران دی، چې کله هم داسې غوبل راپورته کېږي نو د پښتنو د سیمې نه راپاځي. لیکي، چې:

"عقل خو دا وایي چې د افغانستان د منځ یا د لمر پرېواته ډډې خلك دې د امیر صاحب په خبره بد ومني، ځکه

چې د امیر صاحب دا نوي اصلاحات هغو لپاره د بلې دنیا خبرې دي او بالکل ناآشنا دي او څومره چې د هندوستان سرحد ته نژدې قامونه دي هغوی دې پرې بد نه مني، ځکه چې دوی د هندوستان علاقې ته ځي راځي او داسې نوو خبرو سره یې خوی بوی اخیستی دی اوویني ګوري، چې په دنیا کې نوي کارونه کېږي ولې دلته دا خبره اپوته ده، هغه خلك خو هېڅ نه وايي، چې څه يې ليدلي نه دي او چې څوك بلد دي، په هغو اور بلېږي دا ولې؟

په افغانستان کې به هر قسم خبرې پېښېږي او هرې بادشاهۍ کې داسې ماتې ګوډې راځي. قامونه مرورېږي، بادشاه غوسه کېږي، ډاکه مار پیدا کېږي، لارې شوکېږي، غلا غلتۍ قتلونه خونونه پیښېږي. ولې هغو نه داسې لویه خبره جوړول د بدناموسۍ کاغذونه خورول او داسې بند په بند دروغ پیوندول د دښمنانو کار دی. هر چا سره پکار دي، چې خپل عقل وچلوي او خپل دوست دښمن وپېژني نیك خواه بد خواه بېل کړي.

*خلك به هرڅه هرڅه وايي*
*جانانه مه د چا منه نه به يې منمه" (۲۴)*

د مضمون په پای کې راحت زاخیلی پښتنو نه غوښتنه کوي، چې:

"په امن و امان سره خپل عملونه سم کړئ، د اسلام په بادشاه پسې چې ستاسو د دین ورور دی، د سپکو خبرو

ملاتړ مه کوئ. د هغې شرمولو پسې مه ګرځئ، زړه ترې مه بدوئ، د غیر غماز په خبره خپل ایمانونه مه ډوبوئ. دې خپلې بدې ورځې ته خو وګورئ، خدای خو داسې پېژندلې یئ چې د بل د کوتك لاندې مو عمر دی. د غار په خوله کې مو شپه ده، د دنیا ټولې پلیتۍ په موږ کې پرتې دي، بیا لا پاڅېږو او د سلام هغه بادشاه ته ګوته نیسو، چې توره یې په لاس کې ده. خلق ویښوي او سرې ترې جوړوي. د غیر غماز ترې سترګه سوځي او د خپل دین خدمت کوي. مسلمان دی د مسلمانانو نېکخواه دی، په مسلمانانو یې ښه ورځ پېرزو شي. د خپل قام لپاره سر وهلی بر وهلی کله ددنیا په یوه ګوټ، کله په بل ګوټ ګرځي او د قام د فایدې لارې لټوي. خدای مه کړه که دی نه وي، نو موږ نه خو به مغربیان ښځې جوړې کړي او پوزو کې به راته سنۍ واچوي. په آخور به مو وتړي. دا ددغې آزادې علاقې برکت دی، چې موږ لاځه خاورې ایرې په برېتو ګوتې وهلی شو، ګنې د هندوستان لنګوټیان به رانه پخوا جوړ شوي وو". او دا چې "امان الله خان هم دا غوارې چې پښتانه د هر چا د سیالۍ شي، د هر چا د جواب شي، هر چا سره د ناستې شي".(۲۵)

په افغانستان چې کوم غوبل د پیرنګي په لمسه شروع شوی و، هغه ورځ په ورځ زیاتېده. امان الله خان ته په خو ځو واره وویل شول، چې هغه خپل فوځ د بغاوت د ختمولو لپاره استعمال کړي ولې هغه د پښتنو د وینو تویولو نه

انکار وکړو. هغه به ویل چې زما دا قوم ډېر ناپوهه دی او د دښمن په لمسه دا هرڅه کوي. په ۱۹۲۹ کال په جنورۍ کې امان الله خان د کابل تخت پرېښود او کندهار ته لاړ او هلته استوګن شو. په کابل د سقاو د زوی پاچايي شوه.

دلته په کوزه پښتونخوا کې د امان الله خان په تخت پرېښودو يوه غوغا جوړه شوه. د انجمن اصلاح الافاغنه غړي د باچا خان تر مشرۍ لاندې په ځو ځو واره راغونډ شول او په داسې طور طريقو يې بحث وکړو، چې امان الله خان سره په دې سخت وخت کې مرسته او کمك وکړو، چې د پښتنو دا باچايي ګډه وډه نشي. لکه چې ووېل شو "پښتون" په دې ټول وخت کې د خپل وس مطابق د امان الله خان مرسته کوله، په دې کې فبرورۍ کال ۱۹۲۹ په "پښتون" کې د خان مير جلالي څه شعرونه "ځئ قندهار ته" د سرخط لاندې چاپ شول. په دې شعرونو کې ښاغلي خان مير پښتنو ځوانانو ته ووېل، چې هم دا وخت دی چې پکار ده تاسو په امان الله خان غيرت وکړئ، ځکه چې هغه ستاسو مرستې او کمك ته ضرورت لري. په تشو خبرو څه نه کېږي، ملا وتړئ او ځانونه سنبال کړئ، چې د امان الله خان سره ملګري شئ او دا شوکمار د کابل نه وشړئ، چې:

قندهار کې زموږ شاه امان الله دی
منتظر ستاسو سبا او هم بېګاه دی.

نو ددې لپاره څومره په تلوار چې درنه کېدی شي د هغه

امداد ته ځانونه کندهار ته ورسوئ.([26])

هم په دې ګڼه کې د پښتونخوا د يوې درنې علمي کورنۍ يو څو غړيو چې د لوی ولي الله حضرت کاکا صاحب اولاد و، هغوی هم يو مضمون "د افغانستان پښتنو ته د کاکاخېلو سوال او زاري" د سرخط لاندې چاپ کړو. د کاکا صاحب مريدانو چې پکې اپريدي، اورکزي، مومند، شينواري، خوګياڼي، وزير، محسود او اتمان خېل شامل وو، دوی ته کاکاخېلو سوال او زاري کړې وه، چې د امان الله خان مرسته وکړي او:

"په خپل کور کې خپل ځانونه په خپله مه وژنئ او دا خپل کور په خپل لاس مه تاله کوئ او په خپل لاس د خپل ملك بادشاهي اغيارو ته مه ورکوئ او ټول په اتفاق سره خواږه وروڼه شئ.

دويم دا سوال کوو چې موږ خپل شرعي تحقيق په ښه شان سره کړی دی. پوره پوره حال مو معلوم کړی دی او دې نتيجې ته رسېدلي يو، چې غازي امان الله خان ډېر ښه مسلمان دی او د اسلام لپاره او د ټولو پښتنو لپاره بلکې ټول ايشيايي قومونو لپاره دده په شان بهتر او اولالعزم انسان موږ په موجوده زمانه کې بل نه وينو. د ټولو پښتنو د اتحاد او ترقۍ لپاره او د ټولو مسلمانانو د اتحاد او ترقۍ لپاره او د ټولو ايشيايي قومونو اتحاد او ترقۍ لپاره غازي امان الله خان ملا تړلې ده او د خپل قوم او د اسلام او د

مشرق د خدمت لپاره یې خپل ځان او مال وقف کړي دي.

ددې لپاره موږ کاکاخېل ټولو مسلمانانو ته او په خاص ډول ټولو پښتنو ته او د کاکا صاحب رح مریدانو ته خاص کر افریدو ته، اورکزو، مومندو، شینوارو، خوګیانو، وزیرو، مسعودو او اتمانخېلو او نورو قومونه چې دي، دې ټولو ته دا کاغذ په طور د جرګې ورلېږو، هر چاته چې دا کاغذ ورسېږي، نو هغوی دې داسې وګڼي چې د کاکا صاحب ټول لمسي راغلي دي او زما په در او زما په کوټه کې ناست دي او دا سوال رانه کوي، چې پاسئ او ملا وتړئ او تر هغې پورې په قلار مه کېنئ، چې ترڅو پورې مو غازي امان الله خان بیا د کابل په تخت نه وي کېنولی او موږ کاکاخېلو به تر هغې پورې د کاکاصاحب په روضه کې پاك رب ته لاس په دعا نیولي وي، چې ترڅو پورې ستاسو د فتحې خبر نه وي راغلی.(۲۷)

هم په دې ګڼه کې د انجمن اصلاح افاغنه د هغه سمدستي جلسې هم تفصیلات ورکړي شوي دي کوم چې په ۲۳ د جنورۍ کال ۱۹۲۹ باندې په اتمانزو کې وشوه. په دې موقعه دا تجویزونه پاس شو:

۱۰ـ د مصلحتي مجلس دا جلسه په حیثیت د اسلام او د قوم د برتانیه حکومت ته دا مشوره ورکوي، چې هغه دې ددې انګتې نه بالکل غیر جانبدار وي او د هندوستان حکومت ته هم دا خبرې ورکوي، چې دې خبره کې دخل

ورکـول ټولـو مسـلمانانو تـه او بیـا پـه تېره تېـره د پښتنـو قـامونو تـه یو قسم چیلنج دی چې پـه دې خبره بـه د برتـانیې او د پښتنـو پـه راشـه درشـه کـې خامخـا د فـرق پیـدا کېـدو وېـره وي او ددې ټوله ذمه واري به د سرکار په سر وي.

۲ـ د مصـلحتي مجلـس دا جلسـه د افغانسـتان هغـه شـریانو ملایـانو او پیرانـو او نـورو دښمنـانو تـه، چـې د افغانسـتان د بربـادۍ سـبب دي د کـرکې پـه سـترګه ګوري..."(۲۸)

پـه دې ورځـو کـې امـان الله خـان پـه کنـدهار کـې و. دلتـه انجمـن فیصـله وکـړه، چـې د امـان الله خـان امـداد لپـاره یـوه طبـي وفـد هلتـه ولېـږل شـي. ددې طبـي وفـد مشـر یـې ډاکتـر خـان صیب، چـې د باچـا خـان مشـر ورو و هغـه تـه وسـپارلې شـوه او لـه هغـه سـره د کمـك لپـاره ۳۵ هلکـان وټاکـل شـول، چـې پکـې څـه ډاکتـران هـم شـامل وو. پـه دې ورځـو کـې عبـدالغني خـان د باچـا خـان مشـر زوی پـه جامعـه ملیـه اسلامیه ډیلي کې و، هغه هم پلار راوغوښتلو چې لاړ شي او د افغانسـتان د خلکـو پـه دې سـخت وخـت کـې امـداد وکـړي. دلتـه پرنګـي حکومـت وفـد تـه د تلو اجازه ورنکـړه. باچـا خـان او جعفـر شـاه میـا صیب تـه بیـا دا ذمـه واري ورپـه غـاړه کـړل شـوه، چـې د امـان الله خـان سره پـه کنـدهار کـې ملاقـات وکـړي او د هعغـه لـه خـوا لیکـل شـوې غوښتنـه راوړي چـې پکـې دا لیکلـي وي، چـې امـان الله خـان دا غـواړي، چـې طبـي وفـد دې

افغانستان ته راشي. دوی دواړو پوره کوششونه وکړل ولې حکومت دوی بلوچستان ته هم ورننوتو ته پرېنښودل. ددې ټول تفصيلات په "پښتون" کې شايع شوي دي.

د ۱۹۲۹ کال د مارچ په ګڼه کې د ميا احمد شاه يو اوږد مضمون "د غازي بادشاه امان اله خان اسلام او کفر" د سرخط لاندې چاپ شو. په دې مضمون کې ښاغلي ليکوال په ښکاره او جار باندې وويل:

"خدای خرڅونکو، رسول خرڅونکو، دين و ايمان خرڅونکو، خپل آزاد وطن، عزت، حيا او پښتو خرڅونکو د اسلام په جامه کې د ددين د دښمنانو په لمسون او وينا سره يوه مومن مسلمان بادشاه امان الله خان ته د کفر نسبت وکړ، غرض يې دا و چې عام ناپوه خلك د هغه نه وګرځي او بدمعاشانو او دښمنانو ته د آزاد افغانستان د بربادولو موقعه په لاس ورشي. هم هغه شان وشوه. ولې چې ورځ د قيامت شي او خدای پاك کل مخلوقات د حساب لپاره راوبلي او زموږ رسول الله^ص قرآن په ترخ کې د خدای پاك په مخکې حاضر شي، نو په هغه لوی ميدان د حساب کې په حقه سره خدای منونکی، رسول باندې قربانېدونکی او د خپل وطن په خاوره باندې له خپل بال بچ سره زارېدونکی بادشاه امان الله خان به د خلکو نه راجلا شي او په لوی آواز سره به کلمه طيبه درسته کړي او بيا د زړه د درد نه به يوه کريکه وباسي او د هغو ګز ګيرو زر تسبيحو د مکرقبا

پوښو ملایانو ګرېوان ته به لاس واچوي او خدای پاك ته به یې پېش کړي او په ژړا به شي، چې ای لویه خدایه! دا هغه عزت ورکي ملك خرڅونکي قام شرمونکي خلق دي، چې د یو څو روپو لپاره یې په ما باندې د کفر فتوی ورکړې ده او حال دا وه، چې ماته ستا رسول ستا قرآن ستا کعبه په حقه سره منل او خپل عمر مې ستا د یو لوی مخلوق لپاره چې پښتانه بللی شو، وقف کړی و. او خپل سر د مال مې ترېنه زارول ولې دې مکارو د کفارو په لمسون سره په ما باندې د دروغو تورونه پورې کړل او خپل آزاد وطن یې لوټې لوټې کړ.(۲۹)

لیکوال وړاندې لیکي، چې:

"یو خوا بادشاه امان الله خان و، چې د پښتنو د ترقۍ لپاره یې مدرسې، کارخانې، سړکونه، آبادۍ شروع کړې وې او خپل قام ته یې په حکومت کې واك او اختیار ورکړی و او قام ته یې په لوی آواز سره بلنه کوله، چې راشئ چې دا خپل وطن په جمع سره سنبال کړو.... په افغانستان کې بادشاه په خپله خلك رابلي او ورته وایي، چې راځئ چې د وطن د ساتنې او د ترقۍ لپاره ښې ښې لارې رااوباسو. بل خوا یو بدمعاش، پوچه، جوارګر، بنګي، چرسي، غل ډاکو سړی لکه بچه سقاو (د مشکي زوی) چې د پېښور نه د بدمعاشیو په سبب د پولیس له وېرې تښتېدلی دی، د افغانستان د ازادۍ دښمنانو په کابل کې کېنولی دی او په

ټول جهان کې يې پښتانه رسوا کړل او کوم ظلمونه چې هغه په ښځو سره په جار باندې او د هغه په حکم سره بدعملي کېږئ او عام مسلمانان قتلېږي او بيا هم دغې شيطان ته دا ګز ګيري تور زړي پيران او ملايان مسلمان وايي او تعريف يې کوي او د بادشاه امان الله خان په ځای يې کېنولی دی. اصله خبره دا ده، چې روپو د ملايانو د بچه سقاو، د شينوارو او د خوګيانو سترګې ړندې کړي دي او د سپي مچان ترېنه جوړ شوي دي."(۳۰)

ليکوال زياتوي، چې:

"د مور د سينې پی، حرام شه په هغه پښتون باندې چې په بادشاه امان الله خان پسې ټوپک راواخلي. وخت راغلی دی، چې ننګيالي ځوانان د افغانستان د ازادی، د ساتنې لپاره خپل سرونه قربان کړي. تاريخ ګواه دی، چې قومونه په قربانی، سره ژوندي پاتې کېږي. د افغانستان د آزادی، بنياد بادشاه امان الله خان کېښود او هم دا بادشاه امان الله خان و، چې په پښتنو کې يې د ژوندون يو نوی روح پيدا کړ. ۱۹۱۹ کال به د افغانستان په تاريخ کې لکه د لمر هسې ځلېږي. ای شاه امان الله خانه! دا ته وې، چې په دې کال دې د پښتنو د قامولی، بنياد کېښود، موږ به مړه او هېر شو او ډېرې پېړۍ به راشي او تېرې به شي، ولې ستا نوم به د هميشه لپاره ژوندی وي. د پښتنو د ازادی، د تـريخ شروع به هم ستا په نوم کېږي. راتلونکي نسلونه به دې هم په

احسان او تعریف سره ستایي. د بچه سقاو بدمعاشي او د شوربازار د پیر وطن او آزادي خرخول به د پښتنو په سپینه جامه باندې تر ډېرې مودې پورې یو تور داغ وي."(۳۱)

د ۱۹۲۹ کال د اپریل په "پښتون" کې د باچا خان مضمون چاپ شو، چې سرخط یې دا و:"د افغانستان د بغاوت په حقله کې دنیا څه وایي. روس، فرانس او نور خلکونه په چا ملامتیا وایي. آیا د کرنل لارنس (د یو پرنګي نوم دی) په دې کې لاس شته".

په دې اوږد مضمون کې باچا خان د ولایت او د نورو یورپ د ځینې اخبارونو نه خبرونه ورکړي دي او دا یې د ثابتولو کوشش کړی دی، چې د افغانستان په بغاوت کې د رسوایې زمانه کرنل لارنس لاس شته. لارنس د ترکانو خلاف د عربو پورته کولو نه پس افغانستان ته رالیږل شوی و او په "صوبه سرحد کې په یو خاص کار باندې مقرر و" باچا خان لیکي، چې برتانیه دا کوششونه په بار بار کوي، چې په افغانستان کې یو ځلي بیا د انګریزانو هغه اثر و رسوخ پیدا شي، کوم چې په ۱۹۱۹م کال کې د امان الله خان بادشاه کېدو په وجه ختم شوی و او برتانیه دا هم غواړي، چې د هندوستان په ګاونډ کې دې خلک کمزوره او تابعدار وي.(۳۲)

هم په دې ګڼه کې د "پښتون" د چلونکي (باچا خان) د طرفه یوه بل مضمون د "د جلیل ملا چیتې: د هک دک کېدو

خبرې" په نوم چاپ شوی دی. لیکوال وایي چې دا هاغه د مولانا ظفر علي خان د اخبار "زمیندار" نه ترجمه کړی دی.
دا ملا جلیل چې په اخونزاده هم مشهور و، د هډې ملوی صیب په خپلوی کې راتلو. په هندوستان کې یې هم ډېر وخت تېر کړی و او بیا د شوربازار ملا د کشر ورو په لاس یې بیعت کړی و. لیکي، چې:
"ددې نه زما مطلب دا نه دی، چې ټول پیران او ملایان بدنام کړم، زما خو اوس هم په ځینو ملایانو او زبرګانو داسې عقیده ده، چې د هغو په اشارت اور ته دانګم، ولې له داسې بدذاته او کم اصلو ملایانو او زبرګانو نه مې کرکه وشوه، چې د خپلو نفسونو غټولو لپاره په قوم او ملك کې تربګنۍ اچوي، د شر فساد اور تازه کوي. د پښتنو بادشاهي ټوټې ټوټې کوي او د افغانستان له دښمنانو سره یارانې ساتي، نو د داسې زبرګانو له ټګۍ برګۍ نه مسلمان بچ کول زه خپل فرض ګڼم".
ملا جلیل په ښه تفصیل سره د خپل یوه بل پیر بهایي کرم علي شاه ذکر کړی دی، چا چې لکه دده د کشر حضرت شور بازار نه لاس نیوی کړی و. وایي چې دا کرم علي شاه په شکل ښېره بدلولو کې ډېر بد دی، چې ساعت کې یې ګورې نو ښه پرهېزګار عالم به وي،د تسبو لوی ګړپال به یې لاس کې وي او د زبرګۍ او د کرامتونو خبرې به کوي. په ساعت کې به یې ږېره او بریت سره د روحو ټول خریلي وي

او د بهنګو کوتك بــه يې پــه اوږه ايښــی وی او د قلنــدرۍ خبرې بـه کـوي. ماښـام بـه د کاټهيـاواړ پـه جامـه کـې د وړوکـي حضـرت صـاحب پـه شـيخانو کـې ناسـت وي، ذکـر بـه کـوي. ماسـخوتن بـه د يـو پښتـون مـلا پـه جامـه کـې پـه لمانځـه ولاړ وي، سـحر بـه يـې بلـه نمونـه جـوړه کـړې وي. لنـډه دا چـې پـه ځيـره بـدلولو کـې داسـې مهـړنی دی، چـې د امکـان خبـره نـه ده". وړانــدې ليکــي، چــې د حضــرت پــه وينــا دوی لاړل افغانسـتـان تـه، د سـرحد پـه اکثـرو چـاونو کـې وګرځيـدل او بيـا آزادې علاقـې تـه واوړيـدل. لومـړی دوی لاړل شـينوارو ملـك تـه چـې د شـور بـازار مـلا ډيـر اخـلاص منـد مريـد وو، شـينوارو د دوی ډيـره درنـه ميلمسـتيا وکـړه. کـرم علـي شـاه دلتـه خپـل دوه کرامتونــه وښــودل: پنځــه ويشــت دپاســه اووه ســوه (۷۲۵) ولايتــي ټــوپکې او شــپږ د پاســه ســل (۱۰۶) بکســونه د کارتوسـو د يـوه غـار نـه د شـينوارو ملـك بيامونـدل. بلـه دا چـې څـو زره د سـرو زرو اشـرفۍ د حمايـت نـه بـاهر زمکـه وکينـدل شـوه او دا د شـينوارو ملـك تـه ورکـړی شـوه. پـه دې بانـدې کـرم علـي شـاه ډيـر زيـات مشـهور شـو او د خپلـو "کرامـاتو" پـه سـبب پـه باغسـتان کـې بـې تکليـف ګرځيـدو. دی چـې بـه هرچيرتـه لاړو، د ملايـانو پـه مجلس کـې بـه شـامل شـو او د ملکـه ثريـا د تصـوير کيسـه بـه يـې رااچولـه او د خلکـو پـه غـم و غوسـه کـې بـه يې اضافه وکړه.

مـلا جليـل دا هـم ليکـي، چـې دی کوهـد امـان تـه هـم لاړو او

د بچه سقاو سره یې ملاقات وکړو او هلته یې د "جاهلو ملایانو" نه د امان الله خان خلاف قسم قسم فتوې واخیستې.(۳۳)

د ملا جلیل په دې مضمون باندې راحت زاخیلي خپله رایې داسې ورکړې ده:

"دا دي هغه ملایان او زبرګان، چې موږ ورته د دین واکې لاس کې ورکړي دي او هغوی د دښمنانو لپاره څنګه د خپل قام مرۍ پرېکوي. خلق خو وایي، چې زبرګ ته د ټولې دنیا شکې هم معلومې وي ولې زموږ زبرګانو ته دا هم نه دي معلوم که قام او ملك غرق شي نو د دوی به په خپله څه حال شي؟ کاپران خو نه دې زبرګان کوي او نه ترې طریقه کوي او نه به بیا شکرانې ورکوي. دوی له خپل خرتوب له لاسه خپل کور ته اور ورته کوي. خدای دې هر مسلمان د داسې خرو نه وساتي."(۳۴)

هم په دې ګڼه کې یو بل مضمون "د افغانستان اور" د مولوي خلیل الرحمان له قلمه چاپ شو. لیکوال د هغو ټولو خلکو ډېره زیاته غندنه کوي، چې د غېر غماز په لمسه یې خپل کور وران کړو او لکه د لېونو سپو یو بل داړي. لیکي، چې:

"د غیر قومونو نمك حلالو غلامانو شاباس! ستاسو منډې ترړې، ستاسو تقریرونه، تحریرونه، ستاسو د محنت او سختۍ مېوه راوړه. مبارك شه! مبارك شه! دغه دی

افغانستان وران شو. خزانې لوټ شوې، میږزینونه تالا والا تباه او برباد شو. بنګلې، قلاګانې ورانې شوې، بادشاه بې کوره شو، جرنیلان او کرنیلان در په در شول، د زړو او وړو ځیګرونه ځېرې شول. مزکه د ماشومانو د وینو نه سره شوه، ښځې کونډې شولې، واړه یتیمان شول، پرده نشین زنانه بې حرمته شوې. واه! ددې نه زیاته فتحه ستاسو کله کېدای شي؟". (۳۵)

د ۱۹۲۹م کال د مۍ "پښتون" کې د امان الله خان یو خط چاپ شوی دی، چې د ځینې اعتراضاتو، چې په هغې به کېدل د هغې ځوابونه یې په ښه طریقه ورکړي دي او دا وایي، چې:

"دا خو د دښمن ټولې بهانې او چالاکۍ دي، چې زما ساده قوم له یې په دې دهوکه ورکړه او خپل ملك یې پرې باندې تباه او برباد کړ او د دښمن زړه یې یخ کړ." (۳۶)

هم په دې ګڼه کې د امان الله خان له خوا "ترکیې ته د جینکو لېږل" باندې یوه مضمون نما خط هم ورکړی شوی دی، چې نورالحق نومي پښتون طالب علم، چې په حیدر پاشا مډیکل کالج استنبول کې یې سبق وایه، هغه رالستولی دی. ښاغلی لیکوال په تفصیل ددې افغاني جینکو ترکیه ته د راتلو حال لیکي، چې:

"دا زموږ پښتنې جینکۍ ټولې په لیلیې مکتب کې دي. په دې مکتب کې هلك نه شته او استاذانې یې هم ښځې

دي. په داسې مکتبونو کې بغیر د خپل پلار، تره، ماما او
ورور نه بل چا سره د ملاقات اجازت نه شي ورکولی. د
پښتنو جینکو لپاره ملاقات بالکل ناممکن دی. ددغې
مکتب د یو څو ترکانو جینکو وروڼه زما د سبق ملګري دي
دوی د خپلو خوېندو د خولو نه د پښتنو جینکو د دینداری
او د ښو اخلاقو نیك تعریف بیانوي." (۳۷)

ددې مضمون په پای کې باچا خان دا څو کرښې لیکلي
دي:

"ای زما پښتنو ورونو! دا څه الزامات او فتوې، چې په
غازي امان اله خان باندې لګېدلي دي، ددې څه حقیقت
نشته دی او دروغ دي. د خدای لپاره دوست او دښمن
وپېژنئ او د الله په خاطر نور خپل ملك د خودغرضو او نفس
پرستو خلکو په لمسه مه ورانوئ." (۳۸)

د ۱۹۲۹ کال د جون د "پښتون" په لومړي پاڼه د نورالحق
دا شعرونه لیکل شوي :

*ناپوهه پښتنو ته خطاب*

*ته یې پور ته خېژوې دې ځي په ښکته*
*دا متل دی چې د خره مینه وي لته*
*د دښمن مکر پرې څنګه تاثیر وکه؟*
*چې یې توره کړه په پلار پسې اوچته*
*د مرغۍ غوندې اجل دا رنګ روند کړی*
*دانه وینې د دام نه لګوي پته*

تـه بـه پـس د بربـادۍ نـه خبـردار شـې
د جاهـل مخبـر مـلا د نصـيحتـه.(۳۹)

د "پښتـون" د جـون پـه ګڼـه کـې د باچـا خـان د طـرف نـه ليکلی شوې "اداريـه" کـې هـم د امـان الله خـان ذکـر کـوي او پـه جار وايي، چې:

"د ټـول پښتـون قـوم صـرف يـو بادشـاه دی او هغـه غـازي امـان الله خـان دی. زمـوږ فـرض دی، چـې د هغـه د فايـدې او بهبـود يـې حفاظـت مـوږه داسـې وکـړو لکـه چـې څـرنګ چـې د خپـل سـکه ورور کـوو. د خـدای لپـاره لـږ خـو نـورو قومونـو تـه وګـورئ، چـې هغـوی څـرنګ د خپـل بادشـاه پـه وينـا بانـدې ځـان، مـال، زامـن او خپلـوان قربـانوي. د هـر قـام د اتفـاق د يـووالي او د مـنظم کېـدو لپـاره دا ضـروري ده، چـې د هغـې قـام سـړي د خپـل مشـر او بادشـاه، جونګـړه خپلـه جونګـړه او د هغـه تکليـف خپـل تکليـف وګڼـي او هېچېـرې داسـې خبـره ونـه کـړي، چـې د هغـې پـه وجـه د قـام پـه يـوه ډلـه او بلـه ډلـه کـې فساد، دښمني او جنګ وشي."(۴۰)

هم پـه دې ګڼـه کـې د "طبي وفـد او پښتانـه" د سـرخط لانـدې د باچـا خـان يـو بـل مضـمون هـم چـاپ شـوی دی، چـې پـه کـې تفصـيل سـره هغـه حـالات بيـانوي، چـې دوی د طبـي وفـد پـه لېـږلو کـې ورتـه مخـامخ دي او ليکـي، چـې حکومـت پـه هېـڅ حـال کـې دوی تـه اجازت ورکولـو تـه تيـار نـه دی، چـې دوی دې کنـدهار تـه لاړ شـي يـا د کابـل او خـوا وشا علاقـو کـې دې

فساد ځیلي خلکو امداد او کمک وکړي. ددې سره يې د سردار عبدالهادي خان، چې د افغانستان د تجارت وزير و او اوس له امان الله خان سره د کندهار نه بمبۍ ته راغلی و، د هغه بيان هم ورکړی دی. د عبدالهادي خان نه تپوس وشو، چې تا ولې دومره زر افغانستان پرېښود. عبدالهادي ورته ووېل، چې بادشاه دا د اول نه فيصله کړې وه، چې که چرې هغه خبر شي، چې قومونه د هغه په سر پخپلو کې جنګونه کوي او بادشاه ته دا معلومه شوه، چې ددې جنګ سبب زه يم، نو زه به فوراً د تخت نه دست بردار شم، ځکه چې زه نه غواړم چې زما په سبب سره دې زما د مسلمانانو پښتانه ورونه خپلې وينې تويې کړي.(۴۱)

د ۱۹۲۹ کال د جولايي په "پښتون" ګڼه کې باچا خان خپل د "شاه امان الله خان سره ملاقات" تفصيلات ورکړي دي. باچا خان ليکي، چې زه خپلو ملګرو په دې مجبور کړم چې بمبۍ ته لاړ شم او له امان الله خان سره ملاقات وکړم. هغه ته د پښتنو د زړونو خپګان ښکاره کړم او دا ورته ووايم، چې ستاسو د ناکاميو په وجه سره افغانستان خو لا پرېږده، مونږ د سرحد پښتنو ته ډېر سخت نقصان ورسيده. کومه جذبه او همت چې ستاسو په وجه سره په مونږ سرحديانو کې پيدا شوی و او ورځ په ورځ په ترقۍ و هغه ستاسو د خپل قام نه خپه کېدل او بمبۍ ته د راتللو د پښتون قام لپاره يو داسې انقلاب و چې ددې خبر په اورېدو

یکلخت د قام ټولې ارادې بدلې شوې او د همت په ځای بې همتي او مایوسي پیدا شوه.(۴۲)

باچا خان لیکي، چې ځنګه هغه د بمبۍ تاج هوټل ته لاړ، هلته یې له بادشاه سره ملاقات وکړ. باچا خان ترینه په نورو تپوسونو کې دا هم کړی و، چې تاسو ولې جنګ نه کوئ او په زور مو ملك باندې قبضه نه کوله. امان الله خان ورته په ځواب کې وویل، چې:

"چې ګوره اصل کې بادشاه خو یو څوکیدار دی او ددې حق خلکو ته حاصل وو که ماته؟ آیا دا به ښه وي، چې د یو کلي څوکیدار کوتك راواخلي او په زور خلکو ته وایي، چې ما خپل څوکیدار کړئ که چېرې د خلکو د رضا برخلاف زور جاېز وي، نو بیا ماله هم پکار وو چې جنګ مې کړی وای."(۴۳)

باچا خان امان اله خان ته وویل، چې:

"تن په افغانستان کې خانه جنګي ده، په کار دي چې هلته ستاسو لپاره تبلیغ وشي او ستاسو خوبۍ خلکو ته وښودلی شي، چې خلك بیا ستاسو طرف ته رجوع وکړي"

ددې په ځواب کې یې وویل:

"بس زما کار ختم شو، ما لس کاله ددې قام خدمت وکړ، په دې لس کالو کې ما په وخت ډوډۍ نه ده خوړلې، د سحر نه مې ماښام پورې کار کړی دی، د خپلې ښځې، زامنو نه خبر نه وم. د شپې به بیا هم ددې قام په فکر کې

وم، چې دوی به څنګه ترقي وکړي. ددې په صله کې زه قوم قاديانی او کافر کړم. زه د خپل خان لپاره هيڅ قسمه پروپېګنډه او تبليغ نه غواړم، نه يې پخپله کوم او نه چاته وايم چې زما لپاره دې وکړي. زه تاته رښتيا وايم، چې د هغې بادشاهۍ نه اوس ډېر په ارام يم. زمينداري به کوم او خپله ګوزاره به کوم. خدای رازق دی."(۴۴)

هم په دې ګڼه کې عبدالاکبر خان اکبر "د غازي امان الله خان د خپل ملک نه وتل" د سرخط لاندې يو ډېر په زړه پورې مضمون ليکلی دی.

ليکي، چې په ۲۷ مۍ کال ۱۹۲۹ دا "سپېره خبر" راغی، چې امان الله خان د اټلي په لور روان شو. ډېر زيات د خپګان اظهار پرې کوي او ليکي:"حقيقت دا دی، چې د امان الله خان د خپل بدنصيب او جاهل ملک د اصلاح نه نااميده کېدل او په ملک پرېښولو باندې مجبوره کېدل د يو نااميدي يا د يو اسلامي سلطنت د تباهۍ بربادۍ سوال نه دی، بلکې دا سوال د اسلام د راتلونکي وخت د ټول عالم اسلام د انجام او د هغې، چې آيا هغه ساعت لاتراوسه نه دی راغلی؟ چې د هغې علمبردارانو د مذهب د هغې ټيکيدارانو د جنت چې په اصلي معنو کې د انسانيت دښمنان او آدم خواره دي، برخلاف يو لوی جهاد وشي. زه تر قيامته ددې خبرې منلو ته تيار نه يم، چې د افغانستان انقلاب د بيروني سياست د مکارۍ نتيجه ده. ولې که

چېرې د ملك مذهبي پېشوايان چې د هغوی په اشاره بانديي د جاهلو پښتنو عمل او حرکت موقوف دی، پخپله ذليل نه وی، نو ولې به هغوی بيروني اثر قبلولو ته تيارېده. (که چېرې داسې اثر پيدا کړی شوی وای) او دا د خناورو تولی به د خپل هلاکت او تباهی سبب پخپله ولې کېده. خبره دا ده، چې بدنصيب دی هغه قوم، چې بې علم او د چا واکې د مذهبي ناپوهه ملايانو په اختيار کې وي او حد درجه بد بخت دی هغه ملك، چې د چا په اصلاح او تدبير کې د خودغرضو نفس پرستو ته دخل وي". (۴۵)

۱۹۲۹ کال د اګست په "پښتون" کې باچا خان يو مضمون د "واه پښتونه!" د سرخط لاندې شايع کړی دی. په دې مضمون کې باچا خان په قسم قسم خبرو پښتنو ته پېغورونه ورکوي، چې د خپل بادشاه سره مو څه وکړل او د چا په لمسه باندې خطا شوئ او فکر مو دې طرفته هيڅ ونکړو، چې د امان الله خان نه پس به ستاسو څه حال وي؟. وړاندې ليکي، چې:

"ای پښتنو! لږ خو فکر وکړئ، موږ به د لږ ساعت لپاره فرض کړو، چې امان الله خان خراب و. ددې لپاره د هغه برخلاف په افغانستان کې جنګ شروع شو. ليکن اوس خو دوه مياشتې وشوې هغه خراب سړی د افغانستان نه بهر شو او افغانستان خو يې خلکو ته پرېښود، نو بيا ولې کور په کور جنګ دی.

سرو چې موږ به تاسو ته نعرې وهلې، چې ګورئ دوی د دښمن په لمسه د پښتون قام تباهي کوي او د هغه وطن بربادوي، نو تاسو به پکې شك او شبهې کولې. اوس خو هېڅ شك او شبهه پاتې نه شوه.

د خدای لپاره ای پښتنو ورونو! سترګې وغړوئ، تباه شوئ، برباد شوئ دښمن ستاسو د تخت په ورکېدو پسې دی او ستاسو په تخت د مشکي زوی، چې هغه پښتون نه دی کېنوي. ستاسو بادشاه ورکوي، ستاسو په یوه ځای د جمع کېدو ځای ورانوي، ستاسو د دماغونو نه د بادشاهۍ خیال وباسي. تاسو نا امیده کوي. لکه څنګه چې نن ورځ زموږ ډېر خلك ماته مایوسه او نا امیده معلومېږي. مایوسي د بې همته خلکو کار دی. پاسئ د الله پاك او د هغه د پاك رسول ص په خاطر د خپل قام د خدمت لپاره په اتفاق سره او په جمع سره ملا وتړئ. ذاتیات او پر جنبه پرېږدئ. د چا نه چې په مال کېږي هغه دې په مال او د چا نه چې په ځان کېږي، هغه دې په ځان صرفه ونه کړي. تر هغې وخته پورې یو پښتون له آرام کول نه دي پکار تر کوم وخته پورې، چې موږ دا خپل تخت دا خپله بادشاهي واپس د مشکي د زوی نه اخیستې نه ده او په هغې مو یو پښتون نه دی کېنولی.

او که دې وخت کې مو څه قدرې ځان او مال ته وکتل او سستي مو وکړه، نو امید نشته، چې زموږ هستي د دنیا په مخ پاتې شي."

د امان الله خان له تلو سره د پښتنو په جذبه کې هم ډېر لوی فرق راغلو او ددې نه پس بيا د ډېرې مودې پورې شعرونه خو شايع کېدل، چې پکې د امان الله خان ذکر و خو داسې لوی يا اوږد مضمون په دې موضوع نه دی چاپ شوی.

## ماخذونه:


١. پښتون، اتمان زئی، می کال ١٩٢٨، ص ٣٨_٣٩
٢. // // // ص ص ٣٩_٤٠
٣. // // // ص ص ٤٠_٤١
٤. // // // ص ٤١
٥. پښتون، جون کال ١٩٢٨، ص ص ٥_١٠
٦. پښتون، جولايي کال ١٩٢٨، ص ۶
٧. // // ص ٧
٨. // // ص ص ٨_٩
٩. پښتون، اگست، کال ١٩٢٨، ص ٣٢
١٠. // // // ص
١١. پښتون، نومبر کال ١٩١٢٨، ص ٣٤
١٢. // // // ص ص ٣٨_٣٩
١٣. پښتون، دسمبر کال ١٩٢٨، ص ٧
١٤. // // // ص ١٥
١٥. // // // ص ص ١٠_١١
١۶. // // // ص:١٥
١٧. پښتون، جنوري کال ١٩٢٩، صص ١١_١٣
١٨. // // // ص ٤٣
١٩. // // // ص ٤٥

۲۰. // // // ص ۴۵
۲۱. // // // ص ۴۶
۲۲. // // // ص ۴۶
۲۳. // // // ص ۴۷
۲۴. // // // ص ۴۹
۲۵. // // // ص ۵۰
۲۶. پښتون، فبروري، کال ۱۹۲۹، ص ۲
۲۷. // // // ص ص ۴۷_۴۸
۲۸. // // // ص ۴۹
۲۹. پښتون، مارچ، کال ۱۹۲۹، ص ص ۵_۶
۳۰. // // // ص ص ۶_۷
۳۱. // // // ص ص ۸_۹
۳۲. پښتون، اپريل، کال ۱۹۲۹، ص ص ۵_۱۰
۳۳. // // // ص ص ۱۱_۱۸
۳۴. // // // ص ۳۶
۳۵. پښتون، می، کال ۱۹۲۹، ص ۵
۳۶. // // // ص ۸
۳۷. // // // ص ۱۰
۳۸. پښتون، جون، کال ۱۹۲۹
۳۹. // // // ص ص ۹_۱۰
۴۰. // // // ص ص ۳۹_۴۰
۴۱. پښتون، جولايي، کال ۱۹۲۹، ص ۱۰
۴۲. // // // ص ۱۲
۴۳. // // // ص ص ۱۴_۱۵
۴۴. // // // ص ص ۴۲_۴۳
۴۵. پښتون، اګست، کال ۱۹۲۹، ص ص ۱۳_۱۴

# Ghazi Amanullah Khan Star of Independence of Afghanistan.

*Collection of Articles*

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني

VEREIN ZUR FÖRDERUNG DER AFGHANISCHEN KULTUR E.V

د خپرونو لړ (۷۲)